# کمونیزم څه شی دی؟

## د یو زده کوونکي او محصل تر منځ مرکه

۱۳۵۸

انتشارات محسن
Mohsin Publications


# کمونیزم څه دی؟

لیکوال: دکارګرې طبقې آزادۍ پلوه مبارز محصلان

ژباړونکی: محسن خپرندویه

بریښنالیک: mohsinpubs@gmail.com

وبلاګ: http://mohsinpubs.blogspot.com

دخپروني نیټه: د۱۴۰۲ کال دتلی میاشت / د۲۰۲۳ کال داکتوبر میاشت

# کمونیزم څه دی؟

**د یو زده‌کوونکي او محصل تر منځ مرکه**

ددې لیکنې لومړنی متن په کال ۱۳۵۸ کې «د کارګرې طبقې آزادۍپلوه مبارز محصلان» له لوري لیکل شوی و. اوسنی متن په لږ اصلاح سره بیاځلې خپرېږي. هیله ده چې دا لیکنه نویو زده‌کوونکو ته د کمونیزم په پېژندلو کې مرسته وکړي.

**زده‌کوونکی:** «کمون» یعنې څه؟

**محصل:** «کمون» د بشري ټولنې لومړنی بڼه ده. په دې ټولنه کې ټول انسانان پرته له چې نر ده که ښځه، ځوان ده که زوړ، په ټولیز ډول یې ژوند کاوه، په ټولیز ډول ښکار ته تلل او ښاروي به یې ښکار کول، میوه به یې راټولوله او یا به یې کرکیله کوله... او هر څه به یې چې لاسته راوړل یوځای به یې خوړل. که ډوډۍ یا خواړه یې موندل ټولو به خوړل او که نه ول هیڅا نه خوړل. ټولو یو شان ژوند کولو او د تولید اوزار او طبیعت د هیچا په مالکیت کې نه و. په پایله کې، نه بیوزله شتون درلوده او نه شتمن. نه دوکه وه، نه زبېښاک او نه یو انسان د بل انسان له خولو او وینو ژوند کاوه او نه دروغ و او نه....

**زده‌کوونکی:** *کله چې ماشوم وم، نیا ابی به مې ددې ډول ټولنو په اړه ما او زما خور ته کیسې کولې.*

**محصل:** بشر تل غوښتل چې یوه روغ داسې راشي چې نه غل وي او نه ناتار، نه جنایت وي او نه زبیښاک او ښکیلاک. نور انسان د بل انسان وینو ته تږی نه وي، هیڅ ولږه نه وي، جګړه نه وي، ټول یو بل سره مینه ولري، ټول په مینه او محبت د یو بل ترڅنګ ژوند وکړي، له ژوند څخه خوند واخلي، خپل استعدادونه په کار واچوي او یوشان د ورونو او خویندو په څیر او آزاد ژوند وکړي.

**زده‌کوونکی:** *نو دا لومړنی ټولنه (یانې کمون) څرنګه له منځه ولاړه؟*

**محصل:** پوهیږو چې په لومړني کمون کې، د تولید اوزار د ټولو په واک کې (اشتراکي) ول، یانې دکار اوزار (د ښکار لپاره او ځمکې کرلو لپاره) د ټولنې په واک کې ول نه د یو یا څو کسو په واک کې. دغې دورې پېړۍ دوام وکړ. د نویو پنځونو (کشفونو) او د ښوو اوزارو په جوړولو سره او په پایله کې د تولید په زیاتوالي سره، ددې زمینه برابره شوه چې دکمون بیلابیل خلک په بیلابیلو کارونو بوخت شي او د لومړي ځل لپاره دکار ویش رامنځته شو. د تولید اوزارو وده او په یو ځانګړي کار کې د انسان مهارت ډیریدل ددې لامل شو چې هر کس له اړتیا څخه ډیر محصولات ترلاسه کړي او په پایله کې یو شمیر خلکو وکولای شول چې دغه اضافي محصول تر خپل واک لاندې راولي او ورپسې طبقات رامنځته شول او اشتراکي ټولنه له منځه لاړه. په دې وخت کې، د محصول د ډیروالي له کبله، هغه بندیان به یې چې په جګړو کې نیول، نور یې نه وژل، بلکه هغوي یې مریيان کول او د څارویو په څیر به یې ترینه کار اخیستلو. په دغه وخت کې مریي‌لرونکو مریي ته د یو څاروي په توګه کتل او ځان ته یې دا حق ورکړی و چې هغه ووژني، ووهي او یا یې وپلوري. سربیره پردې مریي‌لرونکو له کنیزانو څخه یانې له ښځو مریيانو څخه د عیاشۍ لپاره ګټه اخیستله.

لـه کنیـزي سـره عیاشـي کـول لـه دیني پلوه هم سـتونزه نـه لري ځکـه دین، مریـی او کنیزه د انسـانانو له ډلې نه شـمېري. دا له یو انسـان څخه د بل انسـان د زبېښـاک تر ټولو ناوړه ډول و. خـو دغـو اړیکـو د تـل لپـاره دوام نشـو راوړلی. او د تولیدي ځواکونـو د ودې یانې د تولیـد او انسـان او د مریانـو د پاڅونونـو (طبقاتـی مبارزې) په پایله کې دا نظام وپاشـل شـو او د فیوډالۍ یا جاګیرداری نظام رامنځته شـو. په دې نظام کې هم زبیښـاک شـتون لرلـو خـو یـوازې بڼه یې بدله شـوی وه. رعیت به ټول عمر زیار کښـلو خو د هغه د کړاونو ګټه بـه اربـاب د مالکانـه بهرې او مالیاتو او ... په نوم له هغه څخه اخیسـتله. پـه دې دوره کې مذهـب د زبیښـاک پـه دوام او د رعیـت د ځناوریـز حالـت پـه پټولـو کـې سـتر رول درلـوده او د اعتـراض او مخالفـت هـر ډول غـږ بـه یـې کفر او بې‌ایماني ګڼلـه او هغه به یې چُـپ کاوه. هـم پـه ایـران او هم په اروپا او په نورو ځایونو کې، ډیـری فیوډالان، روحانیان ول. دا دوره هـم د تولیـدي ځـواک د ودې پـه پایلـه کې لـه منځـه لاړه او ددې نظـام له دننه څخـه نـوی نظام رامنځته شـو.

نـوې طبقـه د پانګوالـۍ (بـورژازي) پـه نـوم چې پـه پیل کې کوچنـۍ کارخونې لرلـې (او د فیوډالـۍ پـه نظـام کـې د صنعتګـر پـه توګه یې شـتون لرلو) رامنځتـه شـوه او د کارګرانو (پرولتاریـا) پـه سـخت زبیښـاک او د تولیـد اوزارو پـه ودې سـره پـه چټکـۍ سـره پر مخه لاړه. سـترې کارخونـې رامنځتـه شـوې او بیاځلـې خلـک پـه بـل ډول، مریـیان شـول او ددوي د بې‌وزلـۍ او زبیښـاک او بدمرغـۍ پـه بیه لږه‌کي د ډیرو شـتمنیو او ټولو کارخونو او صنایعـو او ځمکـو خاونـدان شـول. دولـت، د تېـر پـه څېـر ددې لږکیـو د شـتمنیو او جایدادونـو د سـاتنې وسـیله شـوه. دې مرحلې تـه پانګوالي یا کاپیټالیـزم وایي. لویدیځې ټولنـې لکـه امریـکا، انګلسـتان، فرانسـه او ... ددې مرحلـې پـه پـای کې دي.

## زده‌کوونکی: *مارکسیزم یانې څه؟*

**محصل:** مارکسیزم په یوه جمله کې یانې د انسان د خلاصون علم۱ یانې د آرماني ټولنې د جوړولو پوهه یانې علمي سوسیالیزم.

**زده‌کوونکی:** *مارکسیزم څه وایې او څرنګه رامنځته شو؟*

**محصل:** په ۱۹ مه پېړۍ کې په پانګوالې ټولنو کې سربېره پر دې چې صنعت په چټکۍ وده کوله، د هغو هېوادونو ډېرۍ خلکو که څه هم د تولید کچه لوړه شوې وه په بې‌وزلۍ او بدمرغۍ کې ژوند کولو. بیکارۍ، لوږې، بې‌وزلۍ، فحشا او ناروغیو د ډېرو خلکو ژوند له زهرو هم تریخ کړی و. ډېر زیات ماشومان د سترېیا او بې‌خوبۍ له امله، د کار پر مهال په اور کې لویدل او سوځیدل او یا هم د څرخونو په منځ کې ټوټې ټوټې کیدل او همدارنګه ډېرې ښځې د بې‌وزلۍ او بدمرغۍ له امله د سړیو څلورمې برخې معاش په اندازه په کار ګماریدلې. ددې وحشتناکه شرایطو بدلون لپاره یو شمېر فیلسوفانو او د فکر خاوندانو د حل لارې وړاندې کړې خو له دې کبله چې دا لارې غېرعلمي وې، په پایله کې د اجرا وړ نه وې، همداسې د یو نظر تر کچې پاتې شوې. له هماغه پیل څخه کارګرانو په ډولاډول مبارزو لاس پورې کړ، په پیل کې یوکسېزه مبارزه کوله. وروسته په یوه کارخونه یا یوه سیمه کې د عمومي پرلت (اعتصاب) په ډول مبارزې پیل شوې، کارګران ورو ورو وپوهېدل چې خپلو غوښتنو ته رسېدو لپاره باید د نورو کارخونو له کارګرانو سره یو شي او سراسري اتحادې رامنځته کړي. ورو ورو مبارزې یواځې له اقتصادي اړخ څخه وځي او سیاسي بڼه ځانته غوره کوي. دا مبارزې هره‌ګړۍ وده کوي او په پایله کې خپله ایډیالوژیکه بڼه د مارکس او انګلس له آثارو څخه ترلاسه کوي.

مارکس د بې‌وزلۍ، زبېښاک او د لږکېو ژویو په لاس د ډېرو خلکو بندیوانۍ په لیدلو او

---

۱) البته په وروستیو پاڼو کې به یې ولولو چې د انسان آزادي د کارګرې طبقې له آزادۍ سره تړلې ده.

لـه سـترو کارګـري مبـارزو څخـه اغېزمن کېدو پـه پایله کې خپلـه ټولنه پهکـره او هراړخېزه توګـه وپلټلـه. هغـه لـه لسګونو کالـو سـختې مبـارزې او د بشـري تاریـخ پـه ژورې او هـر اړخیزې او دوامدارې مطالعې او د ټولنو د رامنځته کېدو او له منځه تللو تشخیصولو، د پخوانیو پاڅونونو او مبارزو د ماتې لاملونو په څېړلو او د بیلابیلو فلسفو او نړی‌لیدونو پـه کـره لوسـتلو سـره وتوانیـد چې د بشـري پوهـې سـتره، ژوره او اړینه لاسـته راوړنه یاني علمي سوسـیالیزم پیل کړي او د خپلو لوسـتنو او پراخو تجربو حاصل د «کاپیټال»، «د فقر فلسـفه»، «مانیفسـت» او ... په څیر تل‌پاتې شـهکارونو کې رالنډ کړي. او هغه یې د یـوې وسـلې پـه توګـه د ایده‌آلـې ټولنې جوړولـو لپاره، هغه ټولنه چې زمونـږ نیکونو به په خوبونـو کې لیدلـه او په کیسـو کې به یې یادولـه، وړاندې کـړي. له هغې وروسـته د نړی پـر هـره څنـډه کې سـتر او ډیر انقلابونه وشـول او دا بشـري علم یې لا شـتمن کـړو. همدا اوس مارکسـیزم لـه پراخـه تجربـو او ژورو او پـوره اوزارو سـره له طبیعت او ټولنې څخه د انسـان پېژندنې او د انسـان خلاصون یوه وسـیله ده.

**زده‌کوونکی:** *څرنګه کولای شوی دا ککړتیا له منځه یووسو؟*

**محصل:** پوهېږو له هر شـي سـره د مبارزې لپاره باید په پیل کې هغه شـی او د شـتون دلایـل یـې وپېژنـو. مثلا ددې لپـاره چې غـلا لـه منځـه یوسـو لاره یـې دا نـده چې د غل لاس پـرې کـړو، بلکـه بایـد وګـورو کـوم شـرایط یو انسـان غلا ته اړ باسـي نو هغه شـرایط بایـد لـه منځـه یوسـو ترڅـو نـوره غـلا ونشـي. د ټولنیزې ککړتیـا پـه اړه او پـه واقیعت کې ټولنیـزې ناروغـۍ هـم بایـد پـه همـدې ډول لـه منځـه ولاړې شـي. بایـد وګـورو چې ولې یـو شـمیر لږه‌کي هـر څه لـري او اکثریت خلک لـه خپلو لومړنیـو اړتیـاوو بې‌برخې دي؟ ولـې غـلا، بې‌وزلـي، لـوږه او... شـتون لـري؟ او څرنګـه کـولای شـو دا ککړتیـا او ناولیتا له منځه یووسـو.

مارکـس پـه «د کمونیسـت ګونـد مانیفسـت» کې پـه لومـړي ځـل دغـه اوضـاع پـه کـره او

علمي ډول وڅېړله او روښانه يې کړه چې ددې ټولو ککړتياوو او ناتارونو سرچينه د توليد اوزارو په خصوصي مالکيت کې ده او ددې ککړتياوو له منځه وړلو لاره د توليد اوزارو ټولنيز (اجتماعی) کول دي او دا يې ثابته کړه چې د پانګوالۍ دوره هم د نورو دورو په څير پای ته رسيږي او نوې ټولنه رامنځته کيږي چې په هغې کې به د زبيښاک، بې‌وزلۍ، تبعيض، لوږې او ناتار او ... نښه نه وي. هغه د پانګوالۍ ټولنې د تضادونو په کره څېړلو سره دا ښکاره کړه چې له پانګوالۍ وروسته، سوسياليزم راځي او له هغې وروسته کمونيستي ټولنه. هغه دا په ډاګه کړه چې د زبيښاکګرو او زبيښاک‌شوو طبقو ترمنځ تضاد (په پانګوالۍ ټولنه کې د پانګوالو او کارګرانو تر منځ تضاد) د ټولنې د بدليدو لامل ګرځي ټولنه له کاپيټاليزم څخه په سوسياليزم بدليږي او ددې بدلون رسالت، د بشر د تاريخ ددغه ستر انقلاب پېښې د انقلابی‌ترينې طبقې يانې د کارګرې طبقې په اوږو ده.

**زده‌کوونکی:** *شونې ده چې سوسياليستي سيستم راته په لنډ ډول تشريح کړې؟*

**محصل:** پوهيږو چې د پانګوالۍ سيستم بنسټيز قانون، ګټه ده. «ټول شيان د ډيرې ګټې په لاره کې» خو سوسياليستي سيستم لاندې دوه اصله لري:

د توليد اوزار ټولنې پورې اړه لري نه يو يا څو کسو پورې.

د توليد موخه د خلکو اړتياوو پوره کول دي او لکه څرنګه چې مارکس په مانيفست کې ليکلي: توليد بايد د «زيارکښانو د ژوند ښه کولو او پياوړي کولو وسيلې پرته» بل څه نه وي.

د يو کمونيست ګوند مشر، سوسياليزم داسې تعريف کړی دی:

«... اصيله آزادي او د ښېرازۍ بنسټ په هغه ټولنيز رژيم کې نغښتی ده چې انسان له هر ډول زبيښاک څخه خلاص کړي، هغه ته پراخه دموکراتيک حقونه ورکړي، د

ژوندانه وړ وسایل ورکړي، د هغه راتلونکی خوندي کړي، د هغه وړتیاوي او استعدانونه راڅرګند کړي او په هغه کې دا احساس غښتلی کړي چې د هغه کار او زیار د ټولې ټولنې په ګټه دی. سوسیالیزم هو به هو همدا رژیم دی...»

**زده‌کوونکی:** *د سوسیالیزم او کمونیزم ترمنځ توپیر څه دی؟*

**محصل:** سوسیالیزم یوه تېرېدونکې مرحله ده، له پانګوالۍ څخه کمونیزم ته د تګ مرحله. په دې مرحله کې د کمونیستي ټولنې ستنې جوړېږي. که څه هم په سوسیالیستي ټولنه کې واک د زبېښاک شویو او کړېدلو طبقو یانې کارګرانو او زیارکښانو په لاس کې ده او که څه هم دولت د هغوي د غوښتنو اجرا کوونکی دی، خو بیا هم طبقاتي مبارزه شتون لري، لا هم د تېر نظام پاتې‌شوني په پوره ډول له منځه نه دي تللي او لا هم دولت او د کار ویش له منځه نده تللی. په سوسیالیستي ټولنه کې هر کس د خپل توان په کچه چې کار ترسره کوي له ټولنې څخه یې اخلي، خو پوهېږو چې د ټولو د کار توان برابر نده، مثلا یو ناتوانه دی او بل ځواکمن. په پایله کې دا شونې ده چې د هر کس معاش د هغه د ژوندانه اړتیاوې په پوره توګه پوره نکړي.

دا ستونزې په کمونیستي ټولنه کې حل کیږي. په کمونیستي ټولنه کې هر کس د خپل توان په اندازه کار کوي او د خپلې اړتیا په اندازه له ټولنې څخه اخلي. کمونیستي ټولنه یوه بې‌طبقې ټولنه ده. په دې ټولنه کې د ښار او کلي، فکري او جسمي کار، د صنعت او کرهنې ترمنځ توپیر له منځه ځي. دولت هم له منځه ځي او خلک په‌ګډه په آزاده توګه ټولنه اداره کوي. په دې ټولنه کې کار کول د خیټې مړولو لپاره په «زوره» نده بلکه د ژوندانه یوه اړتیا ده او په یو خوند بدلیږي ځکه هر څوک هغه کار کوي چې مینه ورسره لري. د کار ویش (انسانان دې ته اړایستل چې د مریيانو په څیر په ټول ژوند کې یو ټاکلی کار ترسره کړي چې هغوي یې یو پلوه، ناقص او له منځه وړل) له منځه ځي.

هر کس کولای شي د لږ وخت لپاره کار وکړي او په یوه ورځ کې له جسماني کار څخه

فکـري کار ته راوګرځـي. په دې اړه مارکس وايي:

«په اشـتراکي ټولنه کې ټولنه تولید منظم کـوي او په دې توګه ماته او هر چاتـه دا امکان ورکـوي چې نـن پلانکی کار وکـړي، او سـبا بل کار. سـهار ښـکار ته ولاړ شـم، له غرمې وروسـته کب نیولو ته او ماښـام مالداري وکړم پرته له دې چې ښـکاري، کب‌نیوونکی یا مالداره شـم.» (آلماني ایډیولوژي)

د زیاتوالـي او د تخنیـک او صنعـت د ډېـر زیـات پرمختـګ لـه املـه، د زېښـاک د منځـه تـګ لـه املـه، د کارویـش لـه منځـه تـګ لـه املـه، د ښـار او کلـي، د فکـري او بدنـي او صنعـت او کرونډګـرۍ تـر منـځ د واټـن لـه منځـه تـګ لـه املـه، د خـوړو، کـور، روغتیـا، ښـوونځیو، پوښـاک او ... وړیـا کیـدو لـه امله انسـانان بې‌سـارې او له تصـور څخه پورته آزادۍ تـه رسـېږي، نـور نـو د کـور او کالیو او ډوډۍ او د راتلونکي څخه ویره او ... نشـته د ټولنـې هـر غـړی دا امکان لري چې په آرام فکر او سـوچ سـره لـه ټولو هغو محدودیتونو څخـه چې پخوانـي خلـک پکې راګیـر ول ځان خـلاص وګڼـي او خپلـو اسـتعدادونو په هـر اړخیـزه ودې فکـر وکـړي. یواځې پـه همـدې ټولنـه کې ده چې معنویـات، فرهنـګ، اخـلاق، هنـر، علـوم او... د زرغونتیـا اوج ته رسـېږي ځکه د پخـوا پر خلاف د ځمکې پر مـخ میلیاردونـه انسـانان د لومـړي ځـل لپـاره دا فرصت ترلاسـه کوي چې پورتنـۍ چارې ترسـره کـړي. د انسـانانو ترمنـځ تضـاد له منځه ځـي او بشـریت د یووالـي او نږدې‌والي له لارې پـه یـوه کورنـۍ بدلیږي، او د طبیعت رازونو کشـفولو او پر نـړۍ د پوره واکمنېدلو لپـاره بې کچې وسـایل ترلاسـه کوي.

**زده‌کوونکی:** *داچې وايي تاسـو کمونیسـتان پـه «ماده» بـاور لرئ او یواځـې مادیاتو تـه پام کوئ تـر کومې کچې ریښـتیا ده؟*

**محصـل:** دا یـو ناځوانـه تـور ده چې پـر مونږ یې پورې کـوي. د «مـادې او روح» بحث ددې شـیطانانو یا ناپوهانو له تور سـره بیخي توپیر لري. په لنډه توګه دا چې یو فیلسـوف

د برکلي په نوم ويل: د نړۍ ټول شيان لکه ميز او څوکۍ او ونه او کور او... بهرنی او خپلواک شتون نه لري، يوازې زموږ په ذهن کې شتون لري. موږ وايو نه، دا شيان اصلا موږ پورې تړاو نه لري او آن که زه او ته نه اوسو دا ميز او څوکۍ او ونه او کور او ... به په خپل ځای وي. علومو له هغې ډلې ځمکه‌پېژندې او ژوندپېژندې هم دا ثابته کړې چې يو وخت د ځمکې کُره وه خو انسانانو او ونو او بوټو او حيواناتو شتون له لرلو. په پښتو کې د «مادي» توری دوه بېلابېلې ماناګانې لري. يو دا چې يو کس په پيسو او شهرت او شهوت پسې وي، بل په دې مانا چې يو کس په دې باور وي چې ماده پر روح غوره‌والی لري. خو شتمن او د هغوي چوپړان چې د خلکو د وينو او خولو په بيه يې کرغېړنه شتمني راټوله کړې ده او نه غواړي په آسانۍ هغه له لاسه ورکړي، هڅه کوي خلکو ته داسې ووايي چې ماترياليستان په مادياتو پسې دي، پيسو او ګټې او د ځان هوساينې پسې دي. دغو طفيليانو لپاره غوره ځواب، آرانې، روزبه، ګلسرخي، ډاکټر فيض احمد، محسن، داوود او د نړۍ په هر هېواد کې بې‌شمېره کمونيست مبارزان دي چې د ولسونو آزادۍ او له زبېښناک او او ظلم او تبعيض څخه پاکې ټولنې لپاره له خپل ژوند څخه تېر شول. هغوي په ورين تندي مرګ ته هرکلی وويلو او د سرښندنې او خلکو سره د مينې پرتمينې حماسې يې په يادګار پرېښودلې. د نړۍ د ټولو هېوادونو تاريخ د کمونيست مبارزانو له پرتمينو حماسو او سرښندنو څخه ډک دی.

**زده‌کوونکی:** *د کمونيستي اخلاقياتو په اړه زيات راته ووايه.*

**محصل:** کمونيستي اخلاقيات د بشر تر ټولو عالي او پرمختللي اخلاقيات دي. د انسانانو ترمنځ د هر ډول زبېښناک او تبعيض ظلم پر وړاندې د ژوند تر پايه پرېکنده مبارزه کول، د نژادپرستۍ او توکم‌پالنې او مذهبي او ملي غوره‌والي افکار په پرېکنده ډول ردول، د ډېرو خلکو ګټه پر شخصي ګټې غوره ګڼل، ملګرتيا، د ښځې او سړي ترمنځ پوره مساوات، ټول انسان يو شان ګڼل، له ځان څخه نيوکه کول او د

کلانکارۍ روحیې ردول، حرص، مال‌غوښتل، شتمنۍټولولو پر وړاندې مبارزه او ....
د کمونیستي اخلاقیاتو غوره نښې دي. مونږ په دې باور یو هغه وخت له ورورولئ او پیوستون څخه خبرې کولای شو چې ټول برابر وي یانې په ټولنه کې یو ډول امکاناتو او فرصتونو ته لاسرسی ولري که نه کله چې په میلیونونو وږي او ناورغه ماشومان د مرګ په تمه وي، کله چې نیواکګر دولتونه د بېوزله او بېبرخې ولسونو د ځان وروستی څاڅکی وینه هم زبېښي، کله چې زیارکښه خلک د ژوره (زالو)صفتو خلکو له لوري په بېرحمانه توګه زبېښل کېږي، د ورورولئ او پیوستون څخه خبرې کول د ځپل شویو خلکو تېرایستلو او له هغوي سره خیانت کولو پرته بل څه نه دي. په دې اړه مارکس وایي:

«... د مسیحیت ټولنیز اصول سپکاوی، خواري، اطاعت، سرکوزي لنډه دا چې ټول د سپکاوی وړ صفوته تبلیغ کوي. پرولتره طبقه چې دا سپکاوی نه مني زړه‌ورتیا، ځان ته درناوي، په ځان باور او خپلواکۍ ته لیوالتیا ته له ډوډۍ څخه ډیره اړتیا لري.» (د «سپېڅلې کورنۍ» کتاب څخه)

**زده‌کوونکی:** *ولې کمونیستان ټولنه په څو طبقو ویشئ؟ لکه د کارګر طبقه، د پانګوال طبقه او نور؟*

**محصل:** مونږ ټولنه په طبقو نه ویشو، بلکه دا طبقې شتون لري. مخکې مې په بردهدارۍ او فیوډالۍ ټولنه کې د طبقو په اړه درته وویل، په پانګوالۍ ټولنه کې یو شمیر لږه‌کي د تولید توکو خاوندان دي (پانګواله طبقه) او ډیر خلک کارګران دي، هیڅ هم نه لري او د ژوند ادامې لپاره اړ دي چې د خپل کار ځواک په پانګوالو وپلوري.

هره طبقه خپلې ګټې او خپل لیدلوری لري مثلا پانګوال هڅه کوي تر هغه ځایه چې شونې ده له کارګرانو څخه کار واخلي او لږ مزد ورکړي. یانې د هغه‌ګټه د کارګر په زیان کې ده. ددې دلیل چې هغه میلیونر دی، وروستی ماډل موټر لري، څو سترې او ښکلې

ودانۍ لري، قیمت بیه کالي اغوندي، بچیان یې په بهر کې زده کړې کوي او هر کله یې چې زړه وغواړي او یا یې زړه په تنګ شي بهر ته سفر کوي، دادي چې د کارګرانو د لاس زیار غلا کوي او هغوي استثمار کوي. که څه هم د کارګر جیب ته لاس نه وروړي خو کله چې کارګر په ورځ کې مثلا د ۲۰۰۰ افغانیو په ارزښت کار وکړي هغه کارګر ته ۶۰۰ افغانۍ ورکړي، پاتې ۱۴۰۰ افغانۍ خپل خیب ته اچوي.

**زده‌کوونکی:** *تاسو ولي دومره ډیر کارګر یادوئ. کارګر له نورو سره څه توپیر لري؟*

**محصل:** ځکه د کارګر طبقه یواځنۍ طبقه ده چې د هر ډول زبېښاک دښمنه ده. او همداراز یواځنۍ طبقه ده چې د زبېښاک جرړې را باستلی شي. د کارګر طبقه د زبېښاک په له منځه وړلو کې تر ټولو انقلابي، ثاررونکې (پیګیره) او پریکنده طبقه ده. ځکه د مارکس په وینا په انقلاب کې هیڅ شی له لاسه نه ورکوي پرته د لاس او پښو له زنځیرونو څخه. سربیره پردې د تولید (ټولنیز تولید) تر ټولو پرمختللو وسایلو سره اړیکه لري، د راټولیدو او انضباط منلو (ځکه ډیر کارګران په یوه کارخونه کې سره راغونډ دي) عالي وړتیا لري، او پر تولیدي وسایلو خصوصي مالکیت نه لري او د علمي سوسیالیزم په ایډیالوژۍ تر سمبالیدو وروسته په انقلابي‌ترینه طبقه بدلیږي. نورې طبقې لکه وړه بورژوازي (کسب‌لرونکي، د هټیو مالکان، کارمندان او...) که واک هم ترلاسه کړي، له هاغه ځایه چې دوي ثاررونکي نه دي او له پانګوالۍ سره ډیرې زیاتې اړیکې لري او د ټولنې له قوانینو څخه علمي پېژندنه نه لري، نشي کولای په پریکنده توګه شته واکمنې اړیکې او حالات بدل کړي او ډیر ژر به حکومت بېرته د پانګوالو لاس ته ولوېږي۲ (لکه د مصر، انډونیشیا او ... په څیر) دا یواځې او یواځې

۲) پوهېږو تر هغې چې پر ټولنه د پانګوالۍ اوګټې اصل واکمن وي، زبېښاک به هم شتون ولري. هغه حکومت کولای شي چې خلکو ته آزادي او مساوات ورکړي چې د پانګوالۍ اړیکې له منځه یوسي. او

کارګره طبقه ده چې غواړي او اړه ده چې تر پایه مخکې لاړه شي، ترڅو د ارتجاع او زبېښناک وروستۍ جرړې هم راوباسي او نوې نړۍ جوړه کړي. داسې یوه نړۍ چې انسانان له هر ډول ظلم، ناتار، تبعیض او ظالمانه اړیکو پرته د هغې په جوړولو کې ګډون وکړي او ځان د نورو ټولو انسانانو پر وړاندې مسوول وګڼي.

**زده‌کوونکی:** *د ښځو په اړه ستاسو نظر څه ده؟ آیا ستاسو په آند ښځې له سړو سره برابرې دي؟*

**محصل:** پوهېږو چې د انسان شخصیت د هغه چاپېریال څخه چې پکې اوسېږي اغیزمن کېږي. که تاسو خپل ماشومتوب د ګونګیان په منځ کې تېر کړئ او هیڅ له هغو سره خبرې ونکړئ، تاسو به هم د خبرو کولو توان له لاسه ورکړئ. که د غلو او قاچاقبرانو په منځ کې ووسېږئ، په قوي احتمال تاسو به هم فاسد او غل شئ. د ښځو په اړه هم همداسې ده. کله چې تاسو ښځې د کور په څلوردیوالۍ کې بندي کړئ، ښکاره خبره ده چې له هغې څخه د کور تروږۍ جوړېږي، له موږک څخه به ویرېږي او د هیڅ کار توان به نه لري. که تاسو یو هلک هم له ماشومتوبه په کور کې بندي کړئ او تل هغه ته سپکاوی وکړئ، تل هغه ته ووایاست چې ناتوانه یې، بې کاره یې، د هیڅ کار حق نه لرې او یوازې باید له امر څخه اطاعت وکړې، ښکاره ده چې هغه به تر ټولو ناتوان شي. د ټولنپوهانو د څېړنو پر بنسټ د ښځو او نارینه‌وو ټولې ټولنیزې ځانګړتیاوې په یو بل بدلېږي. د ماشوتوب په لومړیو څو کلونو کې د مور

---

دا حکومت د کارګرانو له حکومته پرته بل څه نه شي کېدای. هغه حکومتونه چې ځانونه د کارګرانو او زیارکښانو ملاتړي بولي او په ورته وخت کې په ټولنه کې د پانګوالۍ اړیکې پالي او ساتي، یواځې غواړي خلک په سرو او شنو باغونو وغولوي. او له دې پرته بله تمه هم باید ترینه ونه لرو. دا ډول دولتونه د خپل ماهیت له مخې نشي کولای د کارګرانو او زیارکښانو د بنسټیزو ګټو په لاره کې ګام واخلي.

او پلار او خپلو خپلوانو کړه او وړه له هلک نجلۍ سره یو شان وي، خو وروسته ددوي د راتلونکي کار پر بنسټ هلک په اقتصادي کارونو چې هغې لپاره ځواکمنتیا، جنګیالیتوب، قهر او غورهوالی اړین دي، هڅول کېږي او نجلۍ اطاعت کولو ته، تسلېمیدو ته او ماتې روحې په لور وړل کېږي... ټول تاریخ له داسې شواهدو ډک ده هغه نجونې چې په سالم چاپیریال کې روزل شوي او یا د ژوند په لړ کې یې د نامناست حالت په اړه بلوا کړې، له ډیرو سړیانو څخه زړورې او غښتلې او پیاوړې شوي دي. همدا زمونږ په دوره کې څوک د نسترن آل آقا، مرضیه احمد اسکویي، مینا کشور کمال، صدیقه رضایي، وفا جاسمي، شکوه طوافچیان او نورو ښځو په اندازه شهامت او زړورتیا لري؟ دا ښځې نه وې؟

**زده‌کوونکی:** *ځینې خلک وایي چې کمونیستان د ښځو د شریکولو او یوې ښځې ا میړه له منځه او کورنۍ او واده له منځه وړلو پلویان دي؟*

**محصل:** پوهېږئ چې د ټولنې طفلیان یانې پانګوال او ارتجاع او ... له مونږ سره په عقیدتي مبارزه کې پاتې راغلي نو له ناچارۍ دا ډول تورونه راپورې کوي.

مارکس په مانیفست کې لیکي: کله چې وایو د تولید اوزار باید شریک شي، دوي کریغې وهي چې کمونیستان غواړي ښځې شریکې کړي! پوهېږئ چې ولې داسې فکر کوي؟ ددې لپاره چې ددوي په آند ښځې د تولید اوزار دي. ښځه ددوي له نظره یوه برده ده، یو توکی ده. د خوند او ساتیرۍ یوه وسیله ده. دوي که غربیان وي هلته یې د فحشا او بې‌بند و بارۍ وحشتناک حالت راوستی او هر یو دوه درې معشوقې لري او که شرقیان وي د حرمسرای، څلور ښځو او صیغې او داسې نورو پلویان دي. پوهېږې چې په طبقاتي ټولنو کې ډیر ودونه د ښځې او سړي د مینې پر بنسټ نه بلکه د پیسو، مقام، د والدینو فشار لپاره ترسره کېږي. په دې ټولنو کې بې‌وزلۍ او ولږې په علت ډیرې ښځې اړ کیږي چې ځان وپلوري. حال دا چې په کمونیستي ټولنه کې د زېبښاک

په لمنځه تګ سره، د پیسو او مقام معیار لمنځه تګ سره ... ښځې آزادې او له سړیو سره مساوي کېږي. یواځې په همدې ټولنه کې ده چې د مارکس په وینا چې د پانګې په کتاب کې لیکلې ده: «د کورنۍ او ښځې او سړي تر منځ عالي بنه» راڅرګندیږي. یواځې په همدې ټولنه کې ده چې د انګلس په وینا چې د کورنۍ سرچینه، خصوصي مالکیت او دولت کتاب کې لیکلي: «د ریښتیني یوې ښځې/میړه نظام ...پر ریښتیني مینې ولاړ» رامنځته کیږي.

پر همدې لامل په کمونیستي ټولنه نه یواځې دا چې د یو میړه/ښځې نظام به لمنځه نه ځي بلکه د هغې ریښتینی ډول به پلی شي.

**زده‌کوونکی:** *که کمونیزم ښه وي، نو ولې د غربي ډیموکراسۍ لکه د امریکا د ډیموکراسۍ مخالف دی؟*

**محصل:** غربي ډیموکراسي د ټولو خلکو لپاره د آزادۍ او برابرۍ خبرې کوي. خو په عمل کې دا ډیموکراسي او آزادي د یو څو تنو زبېښاک کوونکو پرته بل چاته شتون نه لري او اکثریت خلک په کړاوونو، محرومیتونو او د بندیانو په څیر ژوند کوي او ترې ګټه اخیستل کیږي. په ټولو پرمختللو پانګه‌والۍ هیوادونو کې یو اقلیت (چې معمولاً پنځه فیصده وګړو ته هم نه رسیږي) د ټولنې د ډیرو شتمنیو خاوندان دي او د خپلو سیاسي نمایندګانو له لارې په اکثریت خلکو باندې واکمني کوي، دا څو تنه د خپل موقف د ساتلو او د کارګران او نورو خواریکښو استثمار لپاره پوځ، پولیس، جاسوسي سازمانونه او پراخه او اوږدې اداري دستګاوې په واک کې لري او د هغو په وسیله خلک کنټرولوي او هر ډول لاریونونه او مخالفتونه ځپي، په داسې حال کې چې د کارګري ډیموکراسۍ حکومت د خواری کښو حکومت دی او همدا کارګران دي چې واک په لاس کې لري. یوازې په دې ټولنه کې ده چې حکومت د ټولنې تابع دی او په هغې باندې واک نلري.

په پانګه‌والي ټولنو کې د ظلم او بې عدالتۍ یوه ښکاره نښه د کارګرې او بې وزله طبقې ځوانانو له تعلیم څخه منع کول دي. هغه ماشومان چې مور او پلار یې د زده کړې زمینې برابرولو مالي توان نه لري، د زده کړې او د هغوي د استعدادونو د ودې پر ځای له ماشومتوب څخه اړ دي چې کار وکړي تر څو د خپلې کورنۍ د عاید سرچینه شي. دا په داسې حال کې ده چې د شتمنو اولادونه کولای شي په خصوصي ښوونځیو (په ایران کې د غیر انتفاعي په نامه یادیږي) په غوره اسانتیاو سره زده کړې وکړي، ډیری کارګر ماشومان د بې‌وزلۍ له امله پوهنتون ته د ننوتلو فرصت نه لري. د ایران په څېر وروسته‌پاتې او پر انحصاري هېوادو کې لا هم ډېر خلک په تېره بیا په کلیو او لیرې پرتو سیمو کې نالوستي دي، هغه حکومتونه چې په دې هېوادونو کې د بلهایو د ګټو ساتنه کوي، نه یوازې دا چې د دې ستونزې د هوارۍ په اړه فکر نه کوي، بلکې کېدای شي، په دې باندې خوشحاله هم وي ځکه چې پر نالوستو او ناپوهانو حکومت کول د هغو خلکو په پرتله خورا آسانه دی چې پوه شوي او خپل حقونه او ګټې یې پېژندلي وي. په داسې هېوادونو کې د علومو پر ځای دیني خرافات خلکو ته ورزده کول کېږي.

**زده‌کوونکی:** *زه یوه پوښتنه لرم چې په لویدیځو هیوادونو کې د ټاکنو دا آزادي څه ده؟*

**محصل:** د ټاکنو دغه تش په نامه آزادي له یوې دوکې پرته بل څه نه دي. زه د مثال په توګه امریکا اخلم. په امریکا کې چې د آزادۍ مشهوره مجسمه هم شته او په رینښتیا هم له آزادۍ څخه یوازې همدا مجسمه پاتې ده، یوازې دوه واکمن ګوندونه دي، جمهوري غوښتونکی ګوند او دیموکرات ګوند. یو امریکایی باید دې یا هغه ته رایه ورکړي. مګر آیا دا دوه توپیر لري؟ په بشپړ ډول نه! د دې دواړو تر شا، انحصاري پانګه‌والان دي چې د هغو لپاره په خپلو پیسو او ځواک اعلانونه کوي، تلویزیوني خپروني جوړوي او د هغو لپاره رایې راټولوي. د خدای د رضا په لاره کې؟! نه، بلکې په دې شرط چې له ولسمشر کېدو وروسته د دوی د ګټو ملاتړ وکړي. خو دوی وایي

چې هر څوک آزاد دی هر څه چې وغواړي ووايي. که زه هرڅومره چيغې وکړم، کله چې هيڅ شی نه بدليږي، نو آيا دا په دې مانا نده چې زه يوازې د هيڅ لپاره خپل ستوني په درد کوم؟ دا تش په نامه آزاد دولتونه چې کله حالات خطرناک وګڼي نو همدغه درواغجنه آزادي هم ترې اخلي او فاشيست حکومت (د مثال په توګه د هټلر جرمني) جوړوي. حقيقي آزادي هغه ده چې هر څوک ورته انډول فرصتونه ولري. يو ښه او انسان‌دوسته کس او يو غل، فاسد او خيانت‌کونکی په پام کې ونيسئ، که دواړه يوشان امکانات او فرصتونه ولري چې خلکو ته خپل غږ ورسوي، د بيلګې په توګه، په يوه اندازه تلويزيون کې راښکاره شي او تبليغات وکړي، نو ښکاره خبره ده چې لومړنی کس به غوره کيږي، خو که لومړني کس ته په تلويزيون کې د راښکاره کيدو اجازه نه وي، يا يوازې د هغه يو څو دقيقې خپرونې وي او دويم کس لاړ شي له پانګوالو او زورواکو سره جوړجاړی وکړي، دوی به په آسانۍ سره هغه ته ټول ټلويزيونونه په واک کې ورکړي، هر څه چې وغواړي ووايي، پر لومړني کس د درواغو تورونه پورې کړي، پايله به يې څه وي؟ هغوی چې يوازې د هغه خبرې اوريدلي دي او نور د هغه په نظر نه پوهيږي، هغه غوره ګڼي او هغه ته به رايه ورکړي. له ټاکنو وروسته چې خلک نور د هغه د بدلولو حق نه لري (لږ ترلږه د اوږدې مودې لپاره) په آسانۍ سره خپلې ټولې ژمنې له پامه غورځوي او له خپل واک څخه ناوړه ګټه پورته کوي، آيا د ټاکنو آزادي همدا مانا لري؟!

**زده‌کوونکی:** *ولې په بېلابېلو رسنيو کې د کمونيستانو پر ضد دومره تبليغات کيږي؟*

**محصل:** تر ټولو لوی ګواښ چې د ټولنې پرازيتي طبقه په له منځه‌وړلو ګواښي، د کار انقلاب يا کمونيستي انقلاب ګواښ دی. له همدې امله دوی هر کال په ميلياردونو ډالر لګوي ترڅو د خلکو د مغزو مينځلو لپاره لارې ومومي او خلک له کمونيزم څخه ويروي. مګر آيا د تاريخ څرخ د حرکت مخه نيول کيدی شي؟ د نړۍ په ټولو برخو

کې، هره ورځ د پانګوالۍ لـه خـوا د ټولـو تبلیغاتـو او درواغـو سـره سـره، زیات شـمیر کارګـران، مـزدوران او آن نـورې طبقې مارکسـیزم تـه مخه کـوي. هو! د خلکـو آزادول یوه اړتیا ده.

**زده‌کوونکی:** ***ځینې خلک وایي چې د کارګر طبقې حکومت یا پرولتاریا دیکتاتوري معنـی دا ده چـې کمونیسـت‌ګونـد واک په لاس کې اخلي او هیڅا ته د نیوکې او اعتراض اجـازه نه ورکوي؟***

**محصـل:** بلکل نـه. مـوږ مخکې هـم ولیـدل چې پانګـه‌وال د خپلو اسـتخدام شـویو روڼاندو په مرسـته هڅه کوي تر څو د خلکو پر سـر سـپاره پاتې شـي او د خلکو زبېښـاک ته دوام ورکړي، یو هم د کمونیزم څخه د خلکو ډارول دي. البته، تاسو باید له دې پرته د بـل څـه تمـه ونـه کړئ. ځکه چې د کارګرانو په منځ کې د علمي سوسـیالیزم نفوذ د پانګې د ویجاړولـو په مانا دی.

د پرولتاریـا د دیکتاتـورۍ پروګـرام د کارګرانـو او نـورو مزدورانـو د اسـتازو لخـوا ترتیـب شـوی او د دوی د ګټو او غوښـتنو سـره سـم دی. له همدې امله کارګران او نور خواریکښ دا پروګرامونـه پـه زړه او روح او پـه خـورا لیوالتیـا سـره پلي کـوي. دوی د پروګرامونـو په اړه خرګندونې کـوي. دوی نیوکـه کـوي او آن غـوره وړاندیزونـه کـوي. د دې پروګرامونـو یوازینـی لـوی مخالفـت د زبېښـاکګرو لـه لـوري کېږي. دوی لـه هیـڅ ډول ګـډوډۍ او ورانـکارۍ څخـه ډډه نـه کـوي. د دوی پـه وړانـدې بایـد یـوازې او یـوزې ځـواک وکارول شـي. دا هغـه څـه دي چې د پرولتاریـا دیکتاتـورۍ مانـا لـري. د مائـو پـه انـد: د پرولتاریـا دیکتاتوري د رجعت‌غوښـتونکو پر ضد دیکتاتوري او د مزدورانو لپاره ډیموکراسـي ده. مائـو پـه‌ګونـد او ټولـنـه کې د کارګرانو لپاره د ډیموکراسـۍ د ارزښـت او اړتیا پـه اړه وایي:

«لـه ډیموکراسـۍ پرتـه، تمرکـز (یووالی) شـتون نلري. خلـک بایـد د بیـان، رسـنیو، مجلسـونو، انجمنونـو، لاریونونـو، مذهبـي عقایـدو او نـورو آزادیـو څخـه برخمـن وي.»

هغه دګوند جوړولو په کتاب کې هم وايي:

«د خلکو په منځ کې ايډيالوژيکي مسايل او اختلافي مسايل يوازې په ډيموکراتيک ډول حل کيدی شي، هغه دا چې د بحث، نيوکې، هڅونې او زده کړې له لارې حل کيدی شي، نه د جبر او فشار له لارې»

لکه څنګه چې ما وويل، د پرولتاريا ديکتاتورۍ، يانې د کارګرانو ډيموکراسۍ. يانې په زبيښاک کوونکي اقليت باندې د اکثريت زورواکي. مزدوران، کارګران، بزګران او داسې نور د دې لپاره چې آزاد وي، او پر خپل برخليک واکمن وي، د دې څو مفتخورو خلکو په وړاندې د زور کارولو پرته بله چاره نه لري. مائو د چين کمونيست ګوند مرکزي کميټې (۱۹۶۶) ته په خپله ويناکې وويل:

«بشپړه بريا د ولس په باور او د همدې باور په مرسته او د ټول ولس په سمبالولو او د هغوی د نوښت د درناوي له لارې ترلاسه کيږي، او په پايله کې، يو څوک بايد لومړی د خلکو زده کوونکی وي ... او هغه څه چې د خلکو لپاره ډول ډول محدوديتونه جوړوي او د هغوي لاسونه او پښې يې تړلي دي، پر وړاندې يې بايد مبارزه وکړو.»

موږ هغه دولت د کارګرانو يا پرولتاريا ديکتاتوري ګڼو چې د کارګرانو ګټې او غوښتنې پلي کوي او د دوی د ځواک وسيله ده، په خلکو تکيه کوي او خلک په مستقيم ډول د کارګرانو او بزګرانو شورا له لارې واک په لاس کې لري.

اوس به وګورو چې کمونيست ګوند د څه لپاره دی او دندې يې څه دي؟ د کارګرانو طبقاتي مبارزه هغه وخت د سوسياليزم په لور د پرمختګ لامل کيږي کله چې يرې دا په سمه ايډيالوژۍ سمبال وي. نو د ګوند شتون د دې لپاره اړين دی چې د کارګرانو منځ ته د مارکسيزم نظريه يوسي او د دوی غوږځنګ د خپل تاريخي رول څخه خبر کړي. د کمونيست ګوند شتون پرته سربيره پر دې چې کارګرانو ته طبقاتي شعور

ورکوي، کارګران کېدای شي ویشل شوي او ناخبره پاتې شي او په هغه کوچنیو امتیازاتو خوشحاله وي چې پانګه‌وال يې په خپله خوښه ورکوي او بیرته ترینه اخلي. کمونیست ګوند خورا پوه او پرمختللي کمونیست کارګران او جنګیالي سره یوځای کوي او د کارګرانو د بیلابیلو برخو ترمنځ اړیکې رامینځته کوي. په داسې حال کې چې د کارګرانو د شرایطو د ښه‌والي لپاره مبارزه کوي (حتی د پانګوالي ټولنې په چوکاټ کې)، کمونیست ګوند کارګرانو ته دا تشریح کوي چې دا کوچنی پرمختګ د زبیښناک سیستم بنسټ نه بدلوي او دوی به د انقلاب او کارګرانو حکومت له لارې ریښتینې آزادۍ ترلاسه کړي.

د واک تر لاسه کولو وروسته، ګوند یوازې د کارګرانو د ځواک وسیله او د دوی د کړنو لارښود دی. ګوند حق نه لري چې پر ولس څه په زوره ومني. بلکه، دا باید د خلکو سره مرسته وکړي چې خپلې بنسټیزې ګټې وپیژني او پخپله عمل وکړي. ګوند باید خلکو ته د نیوکې کولو زمینه برابره کړي. ګوند باید په داسې ډول حرکت وکړي چې خلک په خپل وجود واکمن شي.

**زده‌کوونکی:** *آیا د کارګرانو انقلاب یوازې مزدورانو ته ګټه رسوي؟ یا دا د نورو طبقو او قشرونو په ګټه هم دی چې کارګر طبقه واک ترلاسه کړي؟*

**محصل:** پانګوال هر څه د زیاتې ګټې د ترلاسه کولو لپاره کوي، د کارګرانو له ظالمانه ګټې اخیستنې څخه نیولې بیا د بې‌وزلو هیوادونو لوټل، د فحاشۍ، نشه‌يي توکو او داسې نورو خپرول، کله چې یو محصول د بازار له اړتیا څخه زیات تولید شي، نو که نور پېرودونکي نه وي، پانګه‌وال د فابریکې څخه د کارګرانو په ایستلو سره هم خپل عاید ساتي او هم د وزګارانو په شمیر کې زیاتولو سره هغه کارګران دې ته اړباسي چې د بې‌وزلۍ او لوږې له امله په ټیټ معاش بسنه وکړي. له همدې امله پانګوال تل هڅه کوي چې په ټولنه کې د بې کاره خلکو ډله جوړه کړي. پانګه‌والو ته

دا مهمه نه ده چې کارګران او کورنۍ یې کوم حالت ته رسېږي او له کومو بدمرغیو او ناخوالو سره مخ کیږي. د هغه په اند یوازینی مهم شی ګټه او ډېره ګټه ده ... بل کار چې هغه د توکو د نه پلورلو په وخت کې کوي هغه دا دی چې د ناوړه اعلاناتو په خپرولو سره هره ورځ د نوي محصول پلورلو لپاره درواغجنې اړتیاوې رامینځته کوي. همدا لامل دی چې د پانګوالو هېوادونو خلک د مصرف په جال کې راګیر دي. دوی ډېرې توکو ته چې دوی یې اخلي هیڅ اړتیا نلري. خو دوی باید د دې آرایشي توکو ترلاسه کولو لپاره ډېر کار وکړي او آن خپل راتلونکی وپلوري. په حقیقت کې دا یوازې د کارګر طبقه نه ده چې د پانګه‌والۍ تر ظالمانه اړیکو لاندې ژوند کوي، داسې د بانک کارکوونکی، دوکاندار، ټکسي چلوونکی، دولتي کارمند، زده کوونکی یا محصل او ... ټول د پانګوالۍ په کرغېړنو او زوال سره مخ اړیکو په زنځیرونو کې راښکیل دي. هغه څه چې د کارګري طبقې رهبري اړینه کوي دا ده چې نورې ډلې او طبقې لکه د کارګرانو په څېر ثابتې او انقلابي نه دي او نه شي کولای انقلاب بریا ته ورسوي. دا یوازې کارګره طبقه ده چې د هر ډول استثمار او زبېښاک دښمنه ده او د هغې په لاس کې ده چې اوسنۍ زبېښلې ټولنې او د هغوی غیر انساني او زبېښاک اړیکي له ریښو څخه له منځه یوسي او یو نوی نظام او ژورې انساني اړیکې رامنځته کړي.

**زده‌کوونکی:** *ما په کوم ځای کې لوستي چې مارکسیزم سل کاله پخوانۍ دی او له فیشن څخه وتلی دی؟*

**محصل:** دا ادعا بې بنسټه ده. دا د دې په څیر ده چې ووایو فزیک منسوخ دی. د لویدیځې اروپا او شمالي امریکا تر ټولو پرمختللو پانګه‌والۍ هیوادونو څخه نیولې د سرمایه‌دارۍ نړۍ پورې ترلې هیوادونو پورې، مارکسیزم د پانګې په وړاندې په جګړه کې د کارګرانو او زیارکښانو فکري وسله ده. کمونیستان په ځینو هیوادونو کې چیرې چې د خلکو د ډیموکراتیکو مبارزو په پایله کې د بیان آزادي ترلاسه شوې په قانوني توګه فعالیت کوي او د خپلو نظرونو څرګندولو لپاره له قانوني اسانتیاو څخه لکه په

سوداګریزو اتحادیو کې کار کول او په پارلماني ټاکنو کې برخه اخیستلو ګټه اخلي، خو په هغو هېوادونو کې چې دیکتاتور او زورواکو حکومتونو له هغوی څخه سیاسي آزادۍ اخیستي دي، کمونیستان په ناقانونه او پټه توګه فعالیت کوي. په ټوله کې، مارکسیزم د هرې ورځې په تیریدو سره ډېر مشهور کیږي او ډېر خلک ورته مخ اړوي. ولې؟ ځکه مارکسیزم د کارګر طبقې د خلاصون علم دی، دا د زبېښناک د له منځه وړلو علم دی، او تر څو چې زبېښناک او طبقاتي ټولنه شتون ولري، تر هغې چې پانګه‌والۍ اړیکې شتون ولري، خپل ارزښت به همداسې وساتي.

**زده‌کوونکی:** *دا تر کومه حده رښتیا ده چې دوی وایي مارکسیستان متعصب دي؟*

**محصل:** دا بلکل اپوټه ده. انګلس وايي: «زموږ ښوونځی [مارکسزم] متعصب نه دی بلکې د عمل کولو لارښود دی.» او هغه د انټي ډویرنګ په کتاب کې لیکي: «زموږ په عقیده کې هیڅ شی ابدي، نه بدلیدونکی او مطلق شتون نلري» له همدې امله «ماتریالیزم بايد د هرې دورې کشف سره بدل شي، آن که دا کشف د طبیعي علومو په ساحه کې وي» (د لودویک فیورباخ او د جرمني کلاسیکې فلسفې پای کتاب څخه نقل شوی.) مارکسیزم علم دی او علم نه شي کیدای چې وچ او متعصب وي. انګلس په همدې کتاب کې لیکي:

> «د طبیعت او تاریخ په اړه د پوهې یو سیستم چې په بشپړ ډول هراړخیز او د تل لپاره پای ته رسیدلی وي، البته، د ډیالکټیک فکر له اصلي اصولو سره مخالف دی.»

هلته هغه په ګوته کوي:

> «زموږ د پوهې کچه نن ورځ د تیرو مرحلو په څیر ډاډمنه نه ده. یعني که ووایو چې موږ هر څه ویلي دي او د پنځولو (کشف) یا ویلو لپاره نور څه نه لرو، نو د خپل مکتب له اصولو څخه مو سرغړونه کړې ده.»

**زده‌کوونکی:** *تاسو ولې باور لرئ چې نور مکتبونه له مارکسیزم سره مقابله نه شي کولای؟*

**محصل:** په دې ساده دلیل چې دوی علمي ندي. د پانګوالۍ فیلسوفان د لسیزو راهیسې هڅه کوي داسې یو څه راولي چې د مارکسیزم سره مقابله وکړي یا لږ تر لږه د هغې د نفوذ مخه ونیسي، مګر دوی ونه توانیدل. دلیل یې روښانه دی: د بشري ټولنو تاریخ نه شاته ځي او نه د تل لپاره ودریږي. یوازې هغه نظریه او مکتب به باثباته پاتې شي چې د دې حرکت په لور روان وي. د مریتوب نظام بیرته راګرځیدل ناشونی دی. د بادار او غلام نظام بیرته راګرځول ناشونی دی. د پانګوالۍ نظام بقا ناممکنه ده. تر ټولو ښه لامل یې په ټوله نړۍ کې د طبقاتي مبارزو شدت او په ډیرو هیوادونو کې د کارګرې طبقې په مشرۍ د امپریالیستي او پانګوالۍ ضد انقلابونو رامنځ ته کیدل دي.

**زده‌کوونکی:** *ځینې خلک ادعا کوي چې مکتب یې دریمه لار موندلې، مانا نه پانګوالي او نه سوسیالیزم؟*

**محصل:** دا اوس ثابته شوې چې د نړۍ د خلکو د ژغورنې یوازینۍ لاره سوسیالیزم دی. هغه څوک چې وایي د پانګوالۍ او سوسیالیزم ترمنځ یې دریمه لاره پیدا کړې، یا ناپوهه دی او یا د پانګوالو مزدور دی.

**زده‌کوونکی:** *ځینې خلک وایي که مارکسیستان په حقه وي، نو ولې د شوروي اتحاد او چین په څېر هېوادونو کې نه یوازې کمونیزم رامینځته نه شو، بلکې له څه مودې وروسته په دوی کې پانګه‌والي بیا را ژوندی شوه؟*

**محصل:** موږ پوهیږو چې د سوسیالیستي انقلاب نه وروسته د پانګوالۍ عناصر اړیکو د له‌منځه وړلو لپاره نه سترې کیدونکې او پرله پسې مبارزه نه یوازې اړینه بلکې لازمي او حیاتي هم ده. څومره ژر چې دا مبارزه کمه شي یا پرېښودل شي، ټولنه به نور

د کمونیزم پر لور حرکت ونه کړي. برسېره پر دې، موږ پوهیږو چې د کمونیزم په لور حرکت نه کول د پانګوالو اړیکو ودې او پراختیا ته اجازه ورکوي. البته، د پانګوالۍ سره د مبارزې مانا یوازې د پانګوالو خلکو سره مبارزه نه ده. داسې نه ده چې که موږ دوي له منځه یوړل مونږ به راحته شو چې په خپله تولنه کې مو پانګوالۍ له منځه وړې ده. کله چې پانګوالۍ سره د اقتصادي او ټولنیزو اړیکو د سیستم په توګه تل او په دوامداره توګه مبارزه نه وي، پانګوالۍ اړیکې خپل ملاتړي مومي او خپل ځان پراخ کوي، دا مبارزه باید د سوسیالیزم د دورې په اوږدو کې دوام وکړي تر هغې چې طبقات شتون ولري. په شوروي اتحاد، چین او د پخواني ختیځ بلاک په هیوادونو کې، د پانګوالۍ اړیکو پر وړاندې مبارزه وروسته له هغې پریښودل شوه کله چې هغو ډلو چې د مارکسیزم د انقلابي اصولو د پریښودو او د پانګوالۍ د بیا ژوندي کولو څخه یې ملاتړ کاوه، واک ترلاسه کړ، وروسته د پانګوالۍ اړیکې او هغو ډلو چې د دې اړیکو څخه یې ګټه پورته کوله پیاوړي شول. په پایله کې، یو ځل بیا د مارکسیزم دا علمي اصول ثابت شول: د تولید اړیکو بدلون تل دوامداره طبقاتي مبارزې ته اړتیا لري. له همدې امله، هغه ناورین چې په ختیځ بلاک کې پیښ شو دقیقا د مارکسیزم د اصولو څخه سرغړونه وه.

اجازه راکړئ دا هم ووایم چې د تاریخ حرکت مخ په وړاندې دی، مګر مستقیم ندی. یعنې په خپل مخ پر وړاندې حرکت کې، دا ځینې وختونه بیرته ځي یا له پرمختګ څخه پاتې کیږي. خو له نسبتاً لنډې مودې وروسته (دتاریخ له نظره) یو ځل بیا ځان سموي او پر مخ ځي، نو ځکه پانګوالۍ ته راستنیدل د نه منلو خبره ده.

**زده‌کوونکی:** *زما ځینې ملګري د ځینو کتابونو په اړه خبرې کوي چې ګومان کیږي د مارکسیستانو د خیانت په اړه دي؟*

**محصل:** پر موږ ډېر تورونه د تعصب، بې‌بنسټه او کله ناکله د کم عقلۍ او

تنګ‌نظرۍ له امله وي. ښايي په ځينو مواردو کې د رسالې ليکوال هم ثبوتونه ښودلي وي، خو په قصدي ډول يا د بې‌غورۍ او يا د نه لاسرسۍ له امله يې نور داسې شواهد نه دي راوړي چې د ده پايلې باطلې کړي. البته، موږ دا نه ردوو چې په تېرو وختونو کې ځينې تېروتنې شوي او ممکن په راتلونکي کې د مارکسيستانو لخوا غلطي وشي. که څه هم د مارکسيست شخص، سازمان يا ګوند لپاره دا مهمه ده چې په هوډ او په ټول توان سره د تېروتنو څخه ډډه وکړي، مګر دا ډېره مهمه ده چې په خپل ځان صادقانه نيوکه وکړي او له خپلو تېروتنو او ناکاميو څخه زده‌کړې او له تېروتنو او ماتو څخه د وسلې په توګه کار واخلي. په راتلونکي کې د بريا لپاره له هغې څخه ګټه واخلي.

برسېره پر دې، هغه څوک چې موږ تورنوي، آيا دوی هير کړي چې د تاريخ په اوږدو کې دوي (د هر ډول ليبرال، ملتپال، مذهبي، او داسې نورو په ګډون) کومې لويې تېروتنې او خيانتونه کړي او نه يوازې دا چې له خپلو تېروتنو څخه يې ندي زده‌کړې دوی لا هم په خپلو تېروتنو ټينګار کوي؟

راځئ دا هم په پام کې ونيسو، د لنين په وينا: «د تيورۍ په ډګر کې د مارکسيزم بريا خپل دښمنان دې ته اړ باسي چې د مارکسيستانو جامې واغوندي.» نو موږ بايد خلک او سياسي خوځښتونه د هغوی د ماهيت او کړنو له مخې وپېژنو او قضاوت يې وکړو، نه د نومونو او خبرو پر بنسټ. د تاريخ په اوږدو کې ډېر ځله داسې شوي دي هغه خوځښتونه چې د مارکسستانو ادعا يې کوله د مارکس تيوريګانې يې له منځه وړي او د بورژوازي لپاره بې‌ضرره شوي دي. دوی د مارکسيزم تر نامه لاندې د بورژوازی خدمت کړی دی.

**زده‌کوونکی:** *په اوسنيو شرايطو کې ستاسو دنده څه ده؟*

**محصل:** استثمار شويو طبقو ته ډيموکراټيک او سوسياليستي پوهاوي وړل او هغوي د خپل آزادي‌بخښوونکي رسالت څخه خبرول. انګلس وايي: «د نړۍ د آزادۍ

لاسته راوړنه، د نوې پرولتاریا تاریخي ماموریت دی.» اوس مهال کمونیستي سازمانونه د کارګرې طبقې آزادۍ لپاره مبارزه کوي او خپل ټول ژوند او انرژي یې په همدې لاره کې لګولې ده.

**زده‌کوونکی:** *کارګران څنګه واک ترلاسه کولای شي؟*

**محصل:** موږ پوهیږو چې د پانګوال ګټې د مزدورانو له ګټو سره په ټکر کې دي. پانګوال هڅه کوي د کارګر څخه د امکان تر حده ناوړه ګټه پورته کړي، نو کارګر باید د خپلو حقونو د ترلاسه کولو لپاره اقدام وکړي. مائو وایي: «خلک باید خپله آزادي پخپله ترلاسه کړي او بل څوک دا کار نشي کولی.» کارګران او ټول خواریکښ باید لومړی خپل حقوق او رول وپیژني او سوسیالیستي شعور ترلاسه کړي. د مبارزې په جریان کې، کارګرانو ته معلومه شوه چې د دوی ځواک د دوی په یووالي کې دی. که چیرې کارګران یو نه وي، نو د کار څښتن کولی شي هرکله چې وغواړي کولای شي یو کارګر ګوښه کړي، له کارګرانو څخه ډیر کار واخلي او لږ معاش ورکړي. کله چې د یوې فابریکې کارګران یو شي او اتحادیه جوړه کړي، نو د کارڅښتن د دې اوسپنې خنډ په وړاندې بې ځواکه کیږي. البته، د اتحادیې جوړول کافي ندي. په دغو اتحادیو کې باید کمونیستي عناصر د اتحادیې مبارزې او سوسیالیستي زده‌کړو په ترویج سره د کارګرانو د پوهاوي د لوړولو هڅه وکړي او له بلې خوا دغه اتحادیې باید له کمونیستي غورځنګ سره اړیکه ولري او کمونیستي ګوند هم له کارګري غورځنګ سره د سوسیالیستي پوهاوي له اړیکي څخه پیدا کیږي.

ګوند هغه سازمان دی چې ځانګړې ایډیالوژي لري او د هغې طبقې د ګټو دفاع کوي چې استازیتوب یې کوي. دا د ګوند له لارې ده چې کارګر طبقه واک ترلاسه کولی شي. د لنین په وینا په انقلاب کې د کارګرې طبقې تر ټولو ځواکمنه او اغیزمنه وسله د کارګرې طبقې ګوند دی. دا د کارګر طبقې ګوند دی چې د ټولو مزدورانو او زبیښاک

شـویو او بې‌برخـو طبقـو پـه یـو ځـای کولو او پـه ولس باندې پـه تکیه کولـو او د هغوی په مرسـتې سـره، د بنکیلاک، زبیښـاک، بېوزلۍ، جبر او تبعیض څخه پاکه ټولنه جوړوي.

مـوږ وایـو چې هـر درد خپلـه دوا لـري، د ناروغـۍ د لـه منځه‌وړلـو لپـاره بایـد لومـړی پـه هغـه ناروغـۍ پـوه شـو. راځـئ وګورو چې دا څنګه رامینځته شـوی او څنګـه د دې ناروغ ژغورلـو لپـاره درملنـه کیـږي. همـدا ډول پـه ټولنـه کې مارکس وښـودله چې پـه پانګوالۍ ټولنه کې د تولید پر وسـایلو شـخصي ملکیت د اکثریت وګړو د بدمرغۍ سـرچینه ده. او د پانګوالـۍ د فسـاد د لـه منځه‌وړلـو لپاره لومـړی ګام د تولید د اوزارو ټولنیز کول دي، د بیلګې په توګـه د فابریکو، کرونـدو او نورو.

البتـه، ټولنیـز کـول بایـد لـه حکومتـي کولو سـره ګډوډ نشـي. په ځینـو هیوادونـو کې لکه پخوانـی شـوروي اتحـاد چې کلـه پانګوالـۍ ته مخه کـړه، یا په ایـران کې (د پهلـوي رژیم او اسـلامي جمهوریـت دواړو کې)، ډیری صنعتونـه د حکومت لخوا پرمـخ وړل کیـږي، پـه هرصـورت، زبیښـاک شـتون لري، او د خصوصي سـکتور پانګوالـو پرځای حکومت کارګـران زبیښـاک کـوي. لـه سوسـیالیزم څخـه موخـه دا ده چې کارګـران پخپله صنعت، فابریکې او د تولیـد اوزار پـه ټولیـزه توګـه اداره کـوي او د تولیـد او ویـش چـارې پـه خپـل لاس کې لـري او داکار تـر هغې ممکـن نـه دی چې واک د کارګـرې طبقې پـه لاس کې نه وي. کارګـره طبقـه د زبیښـاک نظـام لـه سـاتلو سـره هیـڅ علاقـه نه لـري. د کارګـر طبقې د مبـارزې وروسـتۍ موخـه د یـوې داسـې کمونیسـتي ټولنـې جـوړول دي چې پـه هغې کې هـر څـوک د خپـل تـوان پـه انـدازه کار وکـړي او هومره یې چې ورته اړتیا وي له سـوکالۍ برخمن وي.

انتشارات محسن
Mohsin Publications